# د پښتو خورا ښه شاعر څوک دي؟

جناب هدايت الله خان نيازي د پنجاب له دهرمپوره له پوښتو ټولني څخه ځيني مهمي ادبي او علمي پوښتني کړي دي، ځکه چي اکثر د دغو پوښتنو، د پښتو ژبي په ادبي ابحاثو کي خورا اهميت لري، نو موږ د کابل مجلې د پوښتني ګرويږني په برخه کي يوه يوه تر څېړني لاندي راولو، د دوی يوه پوښتنه دغه ده : "د پښتو خورا ښه شاعر څوک دی؟" موږ خپله رأيه په دې باره کي ليکو، له نورو پښتنو څخه هم دا هيله لرو، په دې باره کي خپلي رأي ښکاره کړي، البته هر څوك به د پښتو د بهترين شاعر په ټاکلو کي بېله رأيه او ځانته دلايل لري.

د لوړي پوښتني ځواب به هر سړی پخپله رايه بېل بېل ورکوي، او ښايي چي ځيني خلك د بل سړي د رايي په ماتولو کي خورا کلك دلايل هم ولري، مګر هر سړی آزاد دی، چي خپله رايه ښکاره کي، دا خبره خو څرګنده ده، چي شعر يو راز نه وي، ډېر ډولونه او اقسام لري، ځين اشعار د معنا له حيثه ډېر لوړ وي، مګر د شعري اصالت له پلوه بيا لږ څه سپك وي، په پښتو کي چي تر اوسه ما د شعر دېوانونه ليدلي دي هر شاعر ځانته يوه خاصه ادبي ګېڼه لري او د ده شعر په هغه سبب او په هغه مميزه ښه ايسي او مقبول وي. که دقت وکړو د پاړسو ژبي شعراء هم دغه راز دي، فردوسي د رزم استاد دی، سعدي د عشق او اخلاقو او حافظ د بزم سړی دی، مولانای بلخی (رومی) اسرار او حقايق د عرفان په ژبه بيانوي، ډېر ځله داسي پېښېږي چي يو شاعر د خپلو طبيعي احساساتو له دايرې وزي، يعني د خپلي تخصص موضوع او محيط پرېږدي په بله خوا کي ګډېږي او غواړي چي د بل چا د شاعرۍ محيط تسخير کي. په دې وخت بعضي شاعران د شاعرۍ پدې نوي چاپېر کي ناکام پاته سي، او ځيني بيا دومره غښتلي او پياوړي وي، چي په هغه نوي محيط کي له خپلي قريحې څخه ښه کار اخيستلای سي او طبيعي شعر پکښي وايي.

د مثال په ډول : د پاړسو شعر د رزم او جنګ استاد فردوسي دی، په دې ميدان کي دی يو پياوړی پهلوان دی، او خورا طبيعی ويل لري، او په دې ژبه کي رزمي اشعار تر ده بل چا ښه نه دي ويلي، او شهنامه يې عامه مقبوليت لري.

مګر دغه فردوسي چي له خپلو طبيعي احساساتو له دايرې څخه راووزي بيا هغه خوند دده په شعر کي نه ليدل کيږي، مثلاً د فردوسي يوسف او زلېخا د شهنامې په ډول خوږه نه ده، لکه دا بيتونه :

آلـــــــــرا تلـــــك آيـــــــــــــاترا
بخوان تا بدانی حـــــکايات را
بکی سورتی است اندر کـتاب
اګر بطلبی يا بيش بی حسـاب

ځکه چي فردوسي په دې کتاب کي د خپل تخصص له دايرې وتلی دی، نو يې د شهنامې په ډول خوږه او طبيعي وينا نه ده کړې، نه هغه سلاست لري او نه هغه خوږه رواني. دغسي هم سعدي د پاړسو بزمي او اخلاقي Moralist شاعر په دغه محيط کي خورا استاد دی، د ده عاشقانه بدلي ځکه چي له زړه څخه راوتلي دي نو خورا ډېري اثرناکي دي او اکثراً هغه نازك حالات دي چي پر ده باندي پخپله راغلي وه، نو يې بيان هم خوږ او طبيعي او دلچسپ دی، لکه دا بيت :

حدیث عشق نداند کسی که در همه عمر
بسر نـــــــکوفته باشــــــد در ســـــرائی را

مګر هغه وخت چي سعدي لکه فردوسي غواړي، چي جنګ ته داخل سي، یعني رزمي شعر ووایي، هغسي یې خوندور او طبیعي نه سي ویلای، ځکه چي سعدي ته د رزم میدان یو غیر طبیعي ډګر دی، د سعدي دا بیت چي رزمي رنګ لري، محققین او پوهان یې نه خوښوي :

مرا در صفاهان یــــکی یار بود
که جنګ آور و شوخ و عیار بود

پهلواني او جنګجویي خو د شوخۍ او عیارۍ سره کوم مناسبت نه لري، نو ځکه سعدي په دې مرحله کي طبیعي ویل نه لري، لکه په عشق او بزم او اخلاقو کي چي یې لري.

اوس به نو راسو پښتو ته : د دې ژبي شاعران هم هر یو ځانته ممیزه لري او هر سړی د یوه میدان پهلوان ګڼه سي.

رحمان بابا د تصوف او موعظې او اخلاقو استاد دی، حمید په بزم او عشق کي نازکخیالي لري، پیرمحمد لکه حافظ پرېوللي او خواږه عشقي او غرامي اشعار لري، او داسي تېز او اورني جذبات یې دي چي سړی ژړوي او په زړو ګوتي وهي.

مګر داسي شاعر چي په بزم او روم او عشق او اخلاقو او نورو ټولو خواوو کي خواږه ویل لري هغه نو د پښتو پلار خوشحال خان خټك دی او زما دا عقیده ده چي دی نو د پښتو شاعرانو خورا ښه او بهترین شاعر دی.

خوشحال خان په اکثرو ادبي میدانو کي پهلوان دی، رزمي او حماسي خوا یې د فردوسي په شان ده، کلك او غښتلی پښتون دی، پخپله یو حربي بریالی قوماندان دی، په وارو وارو یې د جنګو پر ډګر ځان په وینو ککړ کړی دی، نو ځکه د ده رزمي اشعار خورا اثرناك او طبیعي دي، په پښتو کي چي خوشحال خان رومي او جنګي ویل کړي دي له بل چا څخه نه لیدل کیږي د ده رزمي قصاید موږ د پښتنو جنګي روح را مجسم کوي.

ساقي راسه ډکي ډکي پیالې راکــــړه
چي د میو په مستي کي سم سرشـــار
پښتنو ځلمیو بیا لاسونه سره کـــــړه
لکه باز منګلې سرې کا پخپله ښکار
سپیني توري یې ګلګوني کړې په وینو
په اهـــاړ کي شګـــفته ســــو لالـــه زار

پښتنو هر کله د ډهلي له مغلو څخه خپله آزادي ساتله، او له دوی سره یې سختي مقابلې کولې، د پښتنو په ادب کي د مغلو له دې تاړاکو څخه ډېري شکوې سته، رحمان بابا خو پخپله متصوفانه او عارفانه وینا کي د مغلو لوی شاهان تر منصور قربانوي :

اورنګ او شاهجهان غوندي اشراف
صدقه سه تر منصور غوندي نداف

خواجه محمد هم د جنګ د میدان بریالی نه دی، نو له میدانه تښتي:

د اورنګ په پاچهي کي مي نیاو نه سي
زه خواجه محمد به ووزم و بل لــــور ته

مګر د خوشحال خان جنګي روح ته تاسي وګورئ، چي څنګه پهلواني کوي :

تر اورنګ پاچا مي ویوست

تـــــاو د بند او د زنـــــــدان
نقش مي كښېږاوه د تـوري
په هـــــــندو پـــه مســـلمان

د بزم او عشق او غرام په دنيا كي هم خوشحال خان تر ټولو لوړ دی، د ده عشقي بدلي خورا سلاست او خوږوالی لري، او ځيني داسي نوي نوي مضامين پكښي سته، چي بل ځای نه ليدل كيږي، خوشحال خان د خپلي قريحې په قوت داسي بدلي وايي، چي ډېر اثر لري، دی لكه حميد ماشوخېل يا كاظم خان شيدا، د تكلف او تصنع ميدان ته نه ځي، په ساده ژبه او خوږو الفاظو ښه ښه مضامين ادا كولای سي، كلام يې تعقيد او ابهام نه لري.

كه رحمان بابا يا پيرمحمد په ځينو مضامينو يا د عشق په خبرو كي د خوشحال خان مقام ته رسيږي نو هغه نور ډول ډول اشعار چي خان  لري له رحمان او نورو څخه خو نسته.

خوشحال خان په فلسفه، اخلاقو، حماسياتو، اخلاقياتو او اجتماعياتو كي لوی لاس لري او ښه ښه خواږه اشعار لري، په پښتنو كي د كوم شاعر تر ده ډېر اشعار هم نسته.

هغه مضامين چي نورو د پښتو شاعرانو وينا پكښي كړې او خپل لياقت يې ښكاره كړی دی خوشحال خان هم په هغو كي نه دی پاته، مثلاً د پښتنو متصوف شاعران چي په كائناتو كي د قد     رت د جمال نندارە كوي، ميرزا خان انصاري وايي :

اې ميرزا ته دا مــــلالي ستر‌ګي وينه
چي مدام د يار له ميني په خمار دي

يا دا چي رحمان بابا څرګنی وايي :

په دنيا كي مـــــخ د يار دی نور څه نســـته
هر چي دی د يار ديدار دی نور څه نسته

په دې كي شك نسته، چي رحمان بابا مضمون په سليسو الفاظو او په خواږه ډول ادا كړی دی او د خپل شعر په طبيعي محيط كي لوړ تللی دی، مګر خوشحال خان هم ښه ويلي دي :

يار مي هسي رنګ ځای وكړه په ستر‌ګو
چي و هر لـــــوري ته ګـــورم واړه دی دی

په دې ډول خوشحال خان چي د ادب هر ميدان ته ورځي، هلته پهلوان دی، او د ځان له پاره يې د يو شعر محيط نه دی مقرر كړی، بلكي په هره زمينه كي خواږه ويل لري، او استادانه يې ادا كوي.

په دې لايلو نو زما دا عقيده ده چي خوشحال خان د پښتو خورا ښه شاعر     او تر ټولو لوړ اديب دی، نور محترم پښتانه او پوهان دي هم خپل افكار څرګند كړي، او د پښتو بهترين اديب او شاعر دي وټاكي[1].

[1] كابل مجله ۱۳۱۹ كال، ٤ ګڼه. ۳.-۳۳ مخونه